**سپېڅلې ځمکه، له جومات نه پیغام: د مالیاتو او بیمې قانون کډوالۍ ته د فلسطینیانو اړکولو لپاره دی، نه د هغوی د ازادولو لپاره!**



په سپېڅلې ځمکه (فلسطین) کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر غړي ډاکټر مصعب ابوعرقوب د « **د مالیاتو او بیمې قانون کډوالۍ ته د فلسطینیانو اړکولو لپاره دی، نه د هغوی د ازادولو لپاره**» تر عنوان لاندې وینا وکړه چې له دې څو شېبې وروسته فلسطیني امنیتي ځواکونو د جمعې په شپه نوموړی د حزب له شپږو نورو غړو سره یو ځای له خپلو کورونو ایستلي او له ځانه سره یې بېولي دي او په همدې وخت کې یې د څو نورو ځوانانو په نیولو هم لاس پورې کړی. خو هغوی یې په کورونو کې نه وو موندلي. نیول شوي ځوانان د الخلیل ولایت د الخلیل، یطا، دوره، ظاهریه، بیت اولا او تفوح کلیو اوسېدنکي دي.

د فلسطیني چارواکو دا کړنه د هغو کسانو د غږ مړه کولو لپاره ده چې د بیمې قانون د لغو کولو لپاره خلک رابولي او د دغه قانون له ناوړه پایلو خلک خبروي او هغه سیاسي دسیسې افشا کوي چې فلسطیني چارواکي یې په دغه هیواد کې د کارکوونکو په حق کې په زور، ګواښ او وېرې خپرونې جوړوي.

حزب په خپل وار ټینګار کوي چې د فلسطین د خلکو پر وړاندې د چارواکو د هغو دسیسو شنډولو ته به دوام ورکوي چې چارواکي یې د سپېڅلې ځمکې (فلسطین) د اوسېدونکو د اموالو پېټولو، شتمنیو لوټولو او کډوالۍ ته د دوی د اړ کولو لپاره جوړوي. د حزب شباب به هم له خلکو سره او دخلکو په منځ کې د چارواکو د خیانتونو او د فلسطین د خلکو په حق کې د دوی د ظلم برملا کولو لپاره کار کوي؛ د چارواکو نهیلې کوونکې هڅې د دوی مخه نه شي نیولی.

**لیکلوال: حمزه پارسا**